afghanistan justice archive

DEC4.05.27.2023

د افغانستان اسلامي امارت

د لوړو زده کړو وزارت وزارت تحصیلات عالی

علمي معینیت

د څېړنې، تألیف او ژباړې ریاست

د ژباړې آمریت

ګڼه: ع ۵۹۰

ضمایم: ............

نېټه: ۱۴۴۴/۱/۷ هـ ق

الاطلاع ☐ اطمینانیه ☐ عادي ☐ عاجل ☐

د ( ) پوهنتون محترم ریاست ته!

**السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته.**

**د هېواد د ټولو پوهنتونونو له محترمو استادانو څخه په خورا درنښت هیله کېږي، چې په خپلو علمي آثارو (تألیف، څېړنه او ژباړه) کې لاندې ټکي په جدي توګه رعایت کړي:**

1) د خپلو علمي آثارو په تألیف، څېړنه او ژباړه کې د لوړو زده کړو وزارت ټول قوانین، مقررې، لایحې او کړنلارې په دقت سره وکاروي او پوره درناوی ورته ولري. له هر ډول سمتي، ژبني، مذهبي، قومي، تنظیمي تعصبونو څخه ځان وساتي. له خپل دریځه د شته نظام ننګه وکړي او پر خلاف یې له هر ډول کړنو څخه ډډه وکړي. ځکه چې د ستونزو سبب ګرځي.

2) د خپلو علمي آثارو په تألیف، څېړنه او ژباړه کې دې له نورو ژبو څخه د راغلو کلمو او اصطلاحاتو (دادګاه، دادستاني، دانشجو، دانشګاه، دانشکده، زده کړیال، پوهنیال...) څخه په کلکه ډډه وکړي. مونږ ددې لپاره خپل بدیل اصطلاحات لرو. دا ملي اصطلاحات دې په خپلو علمي آثارو کې وکاروي او پوره درناوی دې ورته وکړي. دا چاره په اکاډمیک ډګر کې د ملي پیوستون، علم عامېدو او غوره افهام او تفهیم سبب ګرځي.

3) د هېواد دیني او ملي شخصیتونو (سید جمال الدین افغان، سلطان محمود غزنوی، احمدشاه بابا او...) نومونه دې په خپلو آثارو کې په پوره درناوي ولیکي او همدارنګه د هر ډول علمي سرقت څخه ځانونه وساتي چې د مخالفت په صورت کې به مسؤلیت د مؤلف، څېړونکي، ژباړن، لارښوود استاد، تقریظ ورکوونکي، د څانګې د آمر او د پوهنځي د رییس پر غاړه وي.

4) مونږ د هېواد ټولو ژبو ته پوره درناوي لرو، خو دا چې د هېواد زیات وګړي په دوو رسمي ژبو (پښتو او دري) خبرې کوي؛ نو هر استاد او علمي کادر غړی مکلف دی، چې د هېواد په دواړو رسمي ژبو (پښتو او دري) ښې وپوهېږي، آثار پرې ولیکي، خبرې او تدریس ورباندې وکړلای شي. پښتو مضمون په فرعي څانګو کې به پښتو ژبه او دري مضمون په دري ژبه باید تدریس شي. له دغه مضمونونو څخه پرته باید هر استاد د هېواد پر دواړو رسمي ژبو د لوست، لیک، ویلو او تدریس له وړتیا څخه برخمن وي او دا اصل په جدي توګه رعایت کړي. همدارنګه هر استاد مکلف دی چې د علمي ترفیعاتو پر مهال خپل علمي آثار (تألیف، څېړنه او ژباړه) مقالې، فورمې او نورو متونه په خپله مورنۍ ژبه (پښتو او دري) ترتیب کړي. له دې اصله د سرغړونې په صورت کې یې ترفیعات نه اجرا کېږي.

: rct.ro.dept@mohe.gov.af

: rctmis.mohe.gov.af

: کارته چهار، کابل، افغانستان

0202500645 :